# ډاکټر راج ولي شاه خټک

# يو نابغه روزګار شخصيت

فيروزخان صادق

اروابښاد پروفيسر ډاکټر راج ولي شاه خټک د پښتو ادب په اسمان داسې ځلېدونکې ستورے دے چې د رڼا پلوشې ئې په هر لور خورې دي هغه د خپل وخت يو عالم فاضل استاد،شاعر، اديب،نقاد،مصنف،مقرر،ماهر تعليم د تصوف کار پوهه د ادب په هر اړخ هر صنف هره موضوع قدرت لرونکے د خپل تاريخ،تهذيب اوتمدن رسم و رواج او ټولو پښتنو کړووړو نمائنده شخصيت ؤ چې په ۲۵ جنورۍ ۱۹۵۲ کښې د نوښار ضلعې په ډاګ اسماعيل کلي کښې د محترم قديم شاه



کره ئې سترګې وغړولې. ابتدائي تعليم ئې په خپل کلي کښې وکړو او بيا د ثانوي او آعلی تعليم دپاره پېښور ته راغلو. دلته ئې په کال ۱۹۷۵ء کښې د پېښور پوهنتون څخه د بي اے ډګري په آعلی نمبرو کښې ترلاسه کړه چې ورته د سرو زرو تمغه هم ورکړے شوه. په کال ۱۹۷۷ء کښې ئې د ماسټر سند ترلاسه کړو په دې دوران کښې په ايډورډ کالج پېښور کښې د پښتو لکچرر په حيث دۀ د خپلې نوکرۍ او ذمه وارۍ پيل وکړو.

په کال ۱۹۷۷ء کښې ايم اے پښتو سند ئې ترلاسه کړو. په کال ۱۹۸۵ء کښې ئې د پښتو ادبي تحريکونه په موضوع د پېښور پوهنتون څخه د پي ايچ ډي ډګري واخسته. د ځلورو کالو نوکرۍ کولو نه پس په دسمبر ۱۹۷۹ء کښې

پښتو اکیډمۍ ته راغلو او دلته ریسرچ لیکچرر په توګه وټاکل شو. نن سبا ور ته جونئیر ریسرچ افسر وئیلے شي.

ډاکټر راج ولي شاه خټک ته الله پاک ډېره اعلی او ادبي پوهه ورکړې وه. د ادب په هر صنف ئې عبور لرلو. په وړومبۍ جولائي کال ۱۹۹۵ء دۀ ته د پښتو اکیډمۍ پېښور پوهنتون د ډائریکټر ذمه واري ورکړے شوه چې تر ۳۰ جون ۲۰۰۴ء پورې ئې دغه ذمه واري په ډېره ایمانداری او دیانتداری سره ترسره کړه. د دۀ په مشرۍ کښې پښتو اکیډمي ګڼ شمېر کارونه وکړل چې پکښې د پښتو مجلې شائع کول. د پښتو ویب سائټ په مختلفو موضوعاتو تاریخي او علمي سیمینارونه،لکچررونه،دکتابونو اشاعت، د خارجي هېوادونو څخه راتلونکو مېلمنو تحقیقینو سره تبادله خیال، په اکیډمۍ کښې مختلف تنظیمي علمي او نور اړوند کارونه هم وشو. عرض دا چې د ډاکټر راج ولي شاه خټک په مشرۍ کښې د پښتو اکیډمۍ ډېره ترقي وکړه. او د خپلو وسیلو دننه ئې خپل ټول هدفونه ترلاسه کړل. دا هم به ډېرو شاعرانو ادیبانو او د قلم قبیلې ملګرو ته معلومه وي چې ډاکټر صېب خپله منصبي ذمه واری په ډېره ښه توګه ترسره کوله د وخت پابندي ئې خپله شیوه جوړه کړې وه او هر کله به چې څوک د دۀ ملاقات یا کوم متعلقه ضرورت دپاره راغلو نو ډېر په عزت او درناوي به ئې د دۀ تود هرکلے کولو او بغېر د مېلمستیا چایو وغېره کولو نه به ئې نۀ رخصتولو. او دغه مېلمه به ئې هر ممکن مدد کولو یعنې هغو په عام ژوند کښې هم ډېر مختلف او وفادار ؤ. د یارانو، د شاګردانو یو شفیق او مهربانه استاد او د هر محفل ښکلا ګڼلے شو. هم دغه اوصافو هغه په خپلو ملګرو او ټولو همزولو لیکوالو کښې ممتاز او منفرد مقام ته رسولے ؤ.

دۀ ته د پښتو او اردو ادبیاتو د پوهې او استاد په توګه د برائټ سکالرشپ په امتحان کښې د یو کال سکالرشپ ترلاسه کولو کښې کامیاب شو. په کال ۱۹۹۳کښې ورته د حکومت پاکستان له اړخه تمغه امتیاز اعزاز ورکړے شو. د کال ۲۰۰۸ نه تر ۲۰۰۹ء پورې دۀ د پښتو څانګې پېښور پوهنتون مشري وکړه او د یو کال په مختصره موده کښې دۀ یو شمېر کارونه وکړل او خپله دنده ئې په ډېر خلوص ترلاسه کړه. بیا د جولائي ۲۰۱۰ء نه تر ۲۳ جنوري ۲۰۱۲ء پورې د ,,ډین فیکلټي آف اورینټل سټډیز،، په ذمه واره او اهمه عهده دۀ خپلې ذمه واری پوره کړې او بیا په ۲۳ جنورۍ ۲۰۱۲ء په ډېر عزت او درناوي پنشني شو.

د اروابښاد یو ځانګړے اعزاز دا هم ؤ چې د ټولو نه ئې په کم عمر کښې د پي ایچ ډي ډګري ترلاسه کړې وه. دا اعزاز هم ورته په ځانګړي توګه حاصل ؤ چې د پښتو ادب پوهانو کښې صرف هغوي د HEC له طرفه Approved Supervisor ؤ چې نن سبا دا امتیاز د ډاکټر

حنیف خلیل په برخه دے. ارواښاد ډاکټر پروفیسر راج ولي شاه خټک یوازینے پښتون شاعر ادیب او دانشور دے چې د مغرب نه ئې د پوسټ ډاک ډګري ترلاسه کړې وه هغه د خپلو علمي نثري تخلیقاتو په ذریعه د اعتراف په توګه د یو شمېر ادارو او ادبي ثقافتي تنظیمونو له اړخه ګڼ شمېر ایوارډونه او تعریفي سندونه هم ترلاسه کړې دي. خو د ټولو نه لوئې اعزاز او امتیاز د هغه عوامي مقبولیت او محبوبیت ؤ ځکه چې هغه تل متنازعه غیر متنازعه معتدل او هر دلعزیز شخصیت پاتې شوے دے او کله ئې هم د خپل منصب او اختیار نه ناجائزه ګټه نۀ ده پورته کړې بلکې خپله دنده ئې د پښتون قام او ژبې د خدمت په جذبه سرته رسولې ده. هغه په بنیادي توګه یو عالم محقق نقاد استاد او شاعر ادیب ؤ. ورسره د یو تعلیمي ماهر په توګه هم هغه خپله پېژندګلوي لرله د خپل ملازمت په دوران کښې ئې ډېر شاګردان روزلي دي او په ډېره ذمه وارۍ ئې د هغوي تربیت ته پاملرنه کړې ده.

هم دغه وجه ده چې نن د هغوي شاګردان د استادانو په منصب او مقام ناست دي د خپل قام د ماشومانو او زلمو پالنه او روزنه کوي او په دې نیک کار کښې به یقیناً چې د ډاکټر راج ولي شاه خټک برخه شامله وي ځکه چې هم د هغوي په لاربښودنه دا استادان دغه مقام ته رسېدلي دي. دا یو منلے شوے حقیقت دے چې په هر شاګرد د خپل استاد اثر ضرور وي. هم په دغه اساس د ډاکټر راج ولي شاه خټک هر شاګرد د خپل استاد په رنګ قابل او زیرک دے. پروفیسر ډاکټر راج ولي شاه خټک کۀ یو طرف ته د خپل قام زلمو ته درس او تدریس ورکولو نو ورسره ئې د یو لائق فائق تنظیم په توګه د خپلې ادارې ټول ضرورتونه هم پوره کول او هدفونه ئې هم ترلاسه کول او کۀ چرې د پښتو اکېډمۍ په تاریخ نظر واچولے شي نو دا حقیقت به معلوم شي چې تر ټولو زیات کار او پرمختګ هم د ډاکټر صېب په دور کښې شوے دے. د هغه تحقیقي مقالې او د هر دور د لیکوالو او مینه والو دپاره د لارې مثالونه دي. د هغوي علمي او معلوماتي لکچررونه زمونږ دپاره پرانتي کتابونه دي د هغوي ژوند او فن عمل او کردار زمونږ ټولو دپاره یوه نمونه ده. ځکه چې تراوسه پورې د هغوي په کردار او عمل چا ګوته پورته نۀ کړه او تل ئې د هغوي د ایماندارۍ او دیانتدارۍ تعریف او ستائینه کړې ده. ان تر دې چې د هغه مخالفین به هم د ډاکټر راج ولي شاه خټک د دغو اوصافو اعتراف په واز کومي کوي او د هغه غیر متنازعه شخصیت او کردار به مني او تسلیموي ځکه چې هغه تل د یو اصول پرست او فرض شناس مشر په حیث وخت تېر کړے دے او کله ئې هم د چا سره ذاتي عناد او بغض نۀ دے ساتلے.

هغه د پښتو،اردو او انګریزۍ درې واړو ژبو دانشور ؤ. او په درې واړو ژبو کښې ئې په بېلابېلو موضوعاتو مقالې او تبصرې لیکلې دي

چې وخت په وخت په مطبوعاتو کښې چاپ شوې دي او تراوسه پورې ئې د درې واړو ژبو يوه لويه ذخيره خوندي پرته ده. کۀ څه هم يو شمېر کتابونه ئې چاپ شوې هم دي لکه د پښتو ادبي تحريکونه،زيست روزګار،د فقير جميل بيګ، سنګزار (شاعري) پښتو ژبه، د پښتو نوې املا ليکل، پښتو ټولې د پښتنو کسبونه او هنرونه، د روهي متلونو انګليسي ژباړه The Intagible Heritage Walledcity Of Peshawar.

توري چې رښا کوي د رحمان په شعر پښتون ولي (اردو) ناچاپ اثار ئې خوشحال بابا، حمزه خان شينوارے، غني خان،پښتني کلتور، د نوي دور استادان شاعران، د فکر لارې او د انګريزۍ او اردو مقالې او مضمونونه د دې سره ډاکټر راج ولي شاه خټک په ګڼ شمېر موضوعاتو په مختلفو ملکونو او سيمينارونو کښې مقالې اورولې په کتابونو ئې مقدمې او سريزې ليکلې دي او د يو پښتون دانشور په توګه ئې د پښتو په نمائندګۍ د برطانيې،امريکې،افغانستان،ايران او قطر دورې هم کړې دي او دغلته ئې د پښتو په استازي توب د پښتون قام او ژبې په حقله خپلې علمي مقالې وړاندې کړې دي او د خپل قام او ژبې د اهميت او تاريخ څخه ئې نور قامونه خبر کړې دي. په دې دوران کښې ئې د دغو ملکونو نوموړو شاعرانو او پوهانو سره تبادله خيال هم شوے دے او د يو شمېر حکمرانانو سره ئې ملاقاتونه هم شوې دي چې پکښې د افغانستان د هغه وخت اولسمشر حامد کرزے هم شامل دے. څو کرته په ادبي ډلو کښې هم شامل شوے دے بلکې د زياتو ډلو مشري هم ور په غاړه وه چې د خپل ملک نمائندګي ئې کړې ده. د هغه د علمي نثري پنګې لمن ډېره پراخه ده او ډېر څه ئې پکښې ځائې کړې دي خو دلته ئې احاطه ممکن نۀ ده. د يو معياري او مقصدي نثر نګار نه علاوه هغه يو زيرک او بيدار ضمير شاعر هم ؤ.

د شاعرۍ پيل ئې د کال ۱۹۷۰څخه کړے دے چې زيات تر د کاظم خان شيدا،خوشحال خان خټک،قلندر مومند،حمزه شينواري،پريشان خټک او سمندر خان بابا نه متاثره ؤ. شعري مجموعه ئې د سنګزار په نوم په کال ۲۰۱۰کښې چاپ شوې ده. دا عجيبه خبره ده چې هغه يو طرف ته د غني خان غوندې رِند نه متاثره ؤ او بل طرف ته د حمزه بابا غوندې صوفي معتقد ؤ اګرچې هغه په خپله وائي چې زۀ صوفي نۀ يم خو د حمزه بابا د محبت په برکت مې د تصوف رموز و اسرار زده کړې وو. (نور بيا)

(۲۰جولائي د ډاکټر راج ولي شاه خټک د وفات ورځ ده)